
مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
سه شنبه د ۱۳۹۸ د مرغومې لسمه | د ۲۰۱۹ د ډسمبر ۳۱مه | ۴۸۹یمه گڼه

## ځېره

۴ مخ

### مارک ټواین



مارک ټواین یو ښه لیکوال او ښه ویناوال و. هغه په امریکا، انگلستان او نورو هېوادونو کې د ادبیاتو په اړه گټورې ویناوې کړې دي. په همدې موده کې یې خپل غوره اثار هم وپنځول. د ټام سایر پېښې، شاهزاده او گدا، د مي سي سي پي د سیند تر غاړې ژوند یې مهم اثرونه دي.

# توده جگړه او د سولې هڅې؛

## طالبان: د تاوتریخوالي پر کمولو او د اوربند پر بدیله لار سلا مشورې روانې دي



۳

### اوربند او څو شرطونه

۲ مخ

### ډاکټر تیخو ناکامورا؛ له ډاکټرۍ تر نالوستې انجنیرۍ

۲ مخ

### افغانستان د اداري فساد په کرنگ کې

۳ مخ

## په لغمان کې د ۲۱۹ میلیونو افغانیو په لگښت تفریحي پارک جوړېږي



د لغمان په مرکز مهترلام کې د ښاروالۍ او خصوصي سکټور د ۲۱۹ میلیونو افغانیو په گډ مالي لگښت، د یو تفریحي پارک د جوړېدو کار پیل شو.
د لغمان د والي وياند اسدالله دولتزي پژواک ته ویلي، چې د سلامزي په نوم دغه تفریحي پارک په ۳۰۶ جریبه ځمکه کې جوړېږي، چې پرون یې د بنسټ ډبره کېښودل شوه.
د مهترلام ښاروال نظیف الله الکوزی وایي، دغه پارک ته ۱۱۹ میلیونه افغانۍ د مهترلام ښاروالۍ او ۱۰۰ میلیونه نورې د خصوصي سکټور له لوري ځانگړې شوې، چې ډېرې اسانتیاوې به ولري او چارې به یې د درېو کلونو په موده کې بشپړې شي. د مهترلام ښاروال همدا راز زیاتوي چې د ساختماني چارو له بشپړېدو سره سم به په یاد پارک کې یو پنځه ستوریز هوټل، د اوبو حوض، د سړکونو اساسي پخول او لسگونه هټۍ هم ورغول شي.

## وکیلان: مالیې وزارت ۹۱ کود ته دوه برابره پیسې ځانگړې کړې دي

د حکومت له لوري له ۹۱ کود څخه د پیسو د ناسمې استفادې په تړاو د ملي شورا د غړو له اعتراض سره سره لاهم مسوول چارواکي په دې تړاو ملي شورا ته د ځواب ویلو لپاره نه حاضرېږي.
د ولسي جرگې د بودجې او مالي چارو کمېسیون وایي، د قانون پر اساس، ۹۱ کود ته هر کال یو میلیارد افغانۍ ځانگړې کېږي، خو تېر کال مالیې وزارت د ولسمشر په حکم په قانون کې تعدیل رامنځ ته کړی او څه باندې دوه میلیارده افغانۍ یې ورته ځانگړې کړې دي. هغوی وایي، له دې کود څخه د استفادې په تړاو جدي قانوني تخطۍ شوې دي. د ولسي جرگې د بودجې او مالي چارو کمېسیون رییس عظیم محسني وایي: «په دې اړه تخطۍ شوې دي، دا تخطۍ د اندېښنې وړ دي او باید پوښتنه یې وشي. هغوی باید افغان ملت ته په دې اړه واضح ځواب ووایي».
د ولسي جرگې د بودجې او مالي چارو کمېسیون غړي وایي، حکومت د خلکو او نړیوالې ټولنې د تېر ایستلو لپاره د افغانستان بانک څخه له ټاکل شوې اندازې زیاتې له وخت وړاندې پیسې ایستلې او په ملي بودجه کې حساب شوې دي.
د افغانستان د رونټیا څار بنسټ له احتیاطي کودونو او د افغانستان بانک څخه د پیسو ایستل د قانون خلاف عمل بولي او وایي، سره له دې چې د ۹۱ کود پیسې د بېړنیو حالاتو لپاره ساتل کیږي، خو حکومت ترې ناسمه استفاده کړې.
که څه هم مالیې وزارت وایي، دغه وزارت حق لري چې له بانک څخه د عوایدو د راټولېدو په برخه کې یوه اندازه پیسې تر لاسه کړي، خو د جرگې غړي وایي، مالیې وزارت ته انتقال شوې پیسې له هغې اندازې زیاتې دي چې قانون ټاکلې دي.

## په افغانستان کې د امریکا نظامي تگلاره ناکامه شوې



۵ مخ

## اعتراض راننده‌گان در برابر «اخاذی‌ها» در شاهراه هرات- کندهار




شماری از راننده‌گان دیروز در شهر هرات در برابر آنچه که اخاذی پاسگاه‌های پولیس در مسیر شاهراه هرات- کندهار می‌خوانند، دست به اعتراض زدند. این راننده‌گان شاهراه هرات- کندهار را در جنوب شهر هرات برای چند ساعت مسدود ساختند. آنان از نهادهای امنیتی خواستند که افرادی را که در این اخاذی‌ها دست دارند بازداشت کنند.
محمد نبی هلمندی، راننده معترض گفت: «در مسیر این شاهراه گمرک‌های غیرقانونی تأسیس شده اند، پوسته‌هایی اند که به زور پول می گیرند و ظلم می کنند». محمد ایوب رحیمی، دیگر راننده معترض گفت: «یک مرمی به موتر خورد و با کنداغ (سلاح) زد به شیشه (موتر) پیش از این که ما دروازه را باز کنیم و از او پرسان کنیم که مشکل چی است». شماری از این معترضان گفتند که در برخی از موارد این راننده‌گان از سوی نیروهای پولیس لت و کوب نیز می‌شکنند. کامران علیزایی، رئیس شورای ولایتی هرات گفت: «هیچ شکی وجود ندارد که کلان‌ها، سیاست مداران، قدرتمندان در این اخاذی شریک نباشند. اگر نباشد دولت بسیار سریع اقدام می کند. اگر شریک هم باشد، مجبور است که اقدام بکند». مقام‌های محلی هرات می گویند که یک هیئت از شورای امنیت ملی به این ولایت رفته است و با افرادی که در مسیر شاهراه از راننده‌گان و مسافران اخاذی می کنند، جدی برخورد خواهد شد. جیلانی فرهاد، سخنگوی والی هرات گفت: «فیصله این است که تا اقدام جدی در برابر کسانی که اقدام به اخاذی می کنند و سبب آزار و اذیت شهروندان می‌شوند، صورت بگیرد». این در حالی است که سال گذشته نیز شماری از این راننده‌گان در برابر اخاذی‌ها دست به اعتراض زدند و این شاهراه را برای ده روز مسدود ساختند.

Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
Aksos Book Store
Add a book to your life

دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
Aksos Book Store

## دریځ

# اوربند او څو شرطونه

وسله والو طالبانو لا هم په رسمي ډول نه ده منلې چې اوربند کوي، خو وايي، په دې اړه يې خپلمنځي مشورې او بحثونه روان دي.
څه چې د طالب ويندويانو له څرګندونو او طالبانو ته له نږدې سرچينو اخيستل کېدلی شي، هغه دا دي چې طالبان زړه نا زړه اوربند ته ورځي، خو ورسره ځينې شرطونه تړي چې د ممکنه ستونزو مخنيوی وکړي.
د طالبانو له اړخه د څو شرطونو شونتيا شته او ويل کېږي چې ځينو طالب مشرانو دا شرطونه وړاندې کړې دي: لومړی دا چې اوربند به يوازې د جګړې بندول وي، طالبان به د حکومت سيمو ته نه ورځي او حکومت به د طالبانو سيمې ته نه ورځي. دويم دا چې امريکا به د اوربند په پای کې حتمي د سولې وروستی شوې هوکړه لاسليک کوي او هېڅ شی به د دې هوکړې د لاسليک مخه نه نيسي. امريکا به په نهايي شوې هوکړه کې د هېڅ ډول بدلون غوښتنه نه کوي او وروستی شوې هوکړه به همغسې لاسليک کوي. درېيم دا چې که په اوربند کې کومه سرغړونه کېږي، نو ښکېل اړخونه به څېړنه کوي، عاملينو ته به يې جزا ورکوي او دا چاره به د ټول اوربند د ماتې سبب نه کېږي. يانې مقابل اړخ به اوربند نه نقض کوي او تر پايه به ورته ژمن پاتې کېږي. طالبان وېره لري چې ښايي امريکا د خپلو استخباراتي کړيو په مرسته ځينې بريدونه وکړي او پړه يې پر طالبانو واچوي. په دې سره به له يوه اړخه طالبان وېشل شوي ښکاره شي او له بله اړخه به امريکا د سولې د هوکړې له لاسليکه مخ وګرځوي او همدا چاره به پلمه کړي. څلورم دا چې اوربند به له طالبانو د امريکا وروستی غوښتنه وي او له دې وروسته به له طالبانو کومه بله غوښتنه نه کوي او طالبان به يوازې پر هغه څه عمل کوي، چې د سولې په هوکړه کې يې منلي دي. پنځم دا چې دې چارې ته به د اوربند نوم نه ورکول کېږي. طالبان غواړي دې چارې ته بل نوم ورکړل شي چې مطلب يې همغه د تاوتريخوالي کمول او يا اوربند وي. د اوس لپاره طالبان غواړي چې دې چارې ته (د سولې لپاره د مناسبې فضا برابرول) نوم ورکړي. طالبان غواړي په دې سره له يوه اړخه خپل جنګيالي وساتي او له بله اړخه د ممکنه پېښو د توجيه کولو لاره ځان ته پرانيستې پرېږدي، ځکه چې دوی به رسمي اوربند نه وي کړی. دوی ته دا چاره د امريکا د ممکنه دسيسې د مخنيوي لاره هم ښکاري.
داسې ښکاري چې طالبان له يوه اړخه له سخت فشار سره مخ دي، خو له بله اړخه غواړي د امريکا له خوا د ممکنه دسيسې مخه ونيسي. له همدې امله د دغه ډول شرطونو يادونه کوي. ښايي دا شرطونه رسنيز شي او يا هم نه شي، خو طالبان دا هم غواړي چې دا هر څه په يوه هوکړه کې را ټول شي او له اوربند (د سولې لپاره د مناسبې فضا له برابرولو) وړاندې په دې اړه له امريکا سره رسمي هوکړه او لاسليک وکړي. معلومه نه ده چې دغو شرطونو ته د امريکا ځواب څه دی، خو دا چاره د طالبانو له اړخه پر امريکا ژوره بې باوري ښيي.

# ډاکټر تيځو ناکامورا؛


## له ډاکټرۍ تر نالوستې انجنيرۍ

لیکنه: د ستراتيژيکو او سيمه ييزو څېړنو مرکز

د روان کال د ډسمبر مياشتې په څلورمه نېټه هغه جاپاني الاصله افغان چې له ۱۹۸۴ ز کال راپدېخوا يې خپل ژوند د افغان ولس لپاره د خيريه او مرستندويه کارونو په برخه کې وقف کړی و، په جلال آباد ښار کې د نامعلومو کسانو له لوري له خپلو پنځو افغان مرستندويانو سره يو ځای ووژل شو. په دې تحليل کې مو د نوموړي ډاکټر ژوند، خيريه او مرستندويه کړنو او فعاليتونو تر څنګ، په هغو اړخونو ليکل کړي چې کولی شي د افغانستان راتلونکی روښانه کړي.
د جاپاني الاصله افغان ژوند ته لنډه کتنه
ډاکټر ناکامورا په ۱۹۴۶ ز کال کې د جاپان په فوکواکا هغه ښار چې دوه زره کلن لرغونتوب لري او د ټکنالوژۍ سيورۍ پرې له ډېرې پخوا غوړېدلی، وزيږېد. نوموړي خپلې لومړنۍ او لوړې زده کړې په ياد ښار کې د طب په برخه کې د (Kyushu University School of Medicine) څخه وکړې او په ځايي کلينيکونو کې يې د خدمت چارې تر يوې مودې پورې تر سره کړې. په ۱۹۸۴ ز کال کې پېښور ته ولاړ او هلته يې د جزام يا پيس (Leprosy) رنځ په ګډون، د ځينو نورو ناروغيو په برخه کې د ځايي خلکو تر څنګ، د نويو ورغليو افغان کډوالو درملنه هم په وړيا ډول پيل کړه. په ۱۹۹۱ ز کال کې يې د ننګرهار ولايت دره نور سيمه کې يو روغتيايي مرکز پرانيست، دا ځکه چې د نوموړي په آند افغانان تر نورو د زياتې مرستې وړ دي. په ۱۹۹۸ ز کال کې يې په پېښور کې د PMS(Peace Japan Medical Services) په نوم روغتون پرانيست. په افغانستان کې له ۱۹۷۰ ز کال څخه را روانه وچکالي چې کچه يې ورو ورو زياتېده او په سيمه کې يې د نس‌ناستي (اسهال)، کلورا او ځينو نورو ناروغيو ته لاره هواره کړې وه، د ډاکټر ناکامورا او د هغه د کاري ډلې پاملرنه ځانته جلب کړه. همدا وو چې نوموړي څرګنده کړه: يو روغتون نه شي کولی خلکو ته د تغذيې او پاکو اوبو رسولو په برخه کې له هغوی سره د پام وړ مرسته وکړي، نو ځکه غواړو له دې تنګې ساحې (طبابت) څخه بېرون ولاړ شو او خلکو ته د خوړو او پاکو اوبو رسولو په برخه کې بنسټيزې او اوږدمهاله ګټې رسولو لپاره کار وکړو.
هغه مسافر چې افغانستان ته يې ژوند وقف کړ
ډاکټر ناکامورا د افغانانو بې وزلۍ او روغتيايي ستونزو ته د بنسټيزې حللارې موندلو په خاطر د طبابت مقدسه چپنه (لباس) له تنه لرې کړه. د ننګرهار ولايت په ډېرو سيمو کې يې د پاکو اوبو رسولو په برخه کې، ۱٦ سوه څاګانې، ۳۳ کاريزونه او ۱۳ د ځمکې اوبو کولو لويې څاګانې وکيندلې او زياتره هغه خلک چې د وچکالۍ په وجه د سيمې پرېښودو ته تيار وو، له کډې کولو څخه راوګرځول. په ۲۰۰۱ ز کال کې يې د (Afghan Fund for Life) بنسټ کېښود، چې تر ۲۰۰۲ ز کال پورې يې د وچکالۍ او جګړو له امله (۱۵۰) زره بې ځايه شويو وګړو سره د خوړو په برخه کې مرستې وکړې او دې کار په افغانستان کې د (Green Ground Project) ته لاره هواره کړه، چې وروسته د نوموړي ډاکټر له لوري پلې شوه. په ۲۰۰۱ ز کال کې چې د بهرنيانو له لوري پر افغانستان نظامي يرغل وشو او د ډېرو مرستندويه ادارو بندېدو لامل شو؛ خو ډاکټر ناکامورا به ويل، مونږ د نورو پرخلاف هغه ځای ته تلل غواړو، چې هلته خلک اړينو مرستو ته اړتيا ولري او هر څوک هلته تګ ته زړه نه ښه کوي. په ۲۰۰۳ ز کال کې د کونړ له سيند څخه د ګمبيري دښتې ته د مرواريد په نوم د ۲۵ کيلومترو په اوږدوالي د يو کانال غځولو چارې يې د ځايي خلکو په مرسته پيل کړې. هغه سيمه چې خلکو د پاکو اوبو په برخه کې ژورې ستونزې درلودې او ډېرې وخت به د ځايي خلکو تر منځ د اوبو په سر شخړې هم کېدې. په داسې حال کې چې له نوموړي سره د عصري وسايلو، ماشينونو او د بشري ځواک کمښت له ورايه ښکارېده، مګر يادو دوو نيمګړتياوو د نوموړي د کانال جوړولو پلان له خنډ سره ځکه مخ نه کړ، چې د نوموړي د زيږېدو ښار (فوکواکا) او ننګرهار هغه سيمه چې نوموړي پکې د کانال جوړولو پلان درلود، د نوموړي په آند ډېر ورته والی درلود. له دې پرته د بشري ځواک په برخه کې له نوموړي سره د فوکواکا ښار کې د اوبو کانال چې چارې يې ۲۲۰ کاله وړاندې تر سره شوې وې، ډېره مرسته وکړه. داسې چې د نوموړي په باور ۲۲۰ کاله وړاندې نه عصري وسايل وو او نه باتجربه بشري ځواک، مګر د يادې سيمې خلکو په خپله ګډه همکارۍ او مرسته کانال جوړ کړای شو، چې په اوس وخت کې يې پلي کول هيڅ ناشونی کار نه برېښي. غواړو د سيمې خلکو په مرسته دا اوږد کار تر سره کړو، چې بالاخره يې د جوړېدو چارې په ۲۰۱۰ ز کال کې پای ته ورسولې.
ډاکټر ناکامورا يو داسې شخصيت و، چې د رهبرۍ او مديريت غښتلې وړتيا يې لرله، د افغان ولس کلتور او دين ته يې احترام لاره او تل به يې ويل، که غواړې خيريه چارې په ښه ډول تر سره کړې، يادو برخو ته بايد پاملرنه وکړې. افغان ولس ته يې دا په ډاګه کړه، چې څنګه کولی شي له خپلو طبيعي سرچينو څخه په ښه او سمه توګه ګټه واخلي. نوموړي په ننګرهار کې د کانال جوړولو په برخه کې عملاً له عامو خلکو سره هر ډول کار کولو ته ملا پخپله تړلې وه. تر دې چې د کانال جوړولو پر وخت عام کارکوونکي د امريکايي ځواکونو او طالبانو تر منځ د تر سره کېدونکو شخړو او بمباريو له ستر ګواښ سره مخ وو او يو ځل داسې هم وشول چې امريکايي ځواکونو پر هغه سيمه چې دوی پکې د کانال جوړولو چارې تر سره کولې، له هوا څخه د مرميو باران جوړ کړ. مګر د ډاکټر ناکامورا غښتلي اراده يې ونه ځپله او د نوموړي دې کار عامو کاريګرو ته د لا کار کولو جرئت ورکاوه. دلته ده چې د رښتيني او حقيقي سولې اتل په څرګنده توګه په ډاګه کېدلی شي، يوه هغه ډله چې د عامو خلکو بمباريو ته کار وايي او په خپلو درواغجنو وعدو په ميلياردونو ډالرو مصرفولو سره بيا هم نه شي کولی آن د افغان ولس د بې وزلۍ کچه را ښکته کړي، مګر برعکس وژنو او وېرولو ته کار وايي. بلخوا د ګمبيري ډاګ هغه زمری (ډاکټر ناکامورا) چې په يوازې ځان يې د افغانستان د ټول نفوس دوه سلنه (٦ لکه) وګړو ته يوه وچه بيديا نه يوازې خړوبه کړه، بلکې هغوی ته يې د مسجد او مدرسې تعميرونه هم جوړ کړل چې شاوخوا ۸۰۰ زده کوونکي پکې زده کړې کوي او په ياده سيمه کې د جګړو پر ځای سولې او ښې راتلونکې ته لاره هواروي.
پايله
ډاکټر ناکامورا د بشريت او په ځانګړې توګه د افغان ولس رښتيني مرستندويه او خدمتګار شخص و، د نوموړي وژنه د افغان ولس او د هېواد د آبادۍ او بيارغونې د دښمنانو کار دی. افغان حکومت بايد د ټولو مرستندويه ادارو او د هغوی کارکوونکو نه يوازې ستاينه او حمايت وکړي، بلکې په ځانګړې توګه د هغوی ژوند ژغورلو ته بايد ځانګړې پاملرنه وکړي. ځکه خيريه او مرستندويه ادارې د افغان دولت له اوږو څخه په مختلفو برخو کې درانه بارونه راکموي. که څه هم افغان ولس د نوموړي د سترو ارمانونو چې د افغانستان ابادۍ او عامو ولسونو سره مرسته وه، په پار د نوموړي د ژوند پر مهال يو پارک د نوموړي په نوم ونوماوه او تر دې چې د افغانستان افتخاري تابعيت يې هم ورته ډالۍ کړ. افغان دولت بايد له شويو ستاينو پرته د نوموړي ډاکټر کورنۍ ته د افغان دولت تر ټولو ستر نښان (علامه سيد جمال الدين افغان دولتي نښان) ډالۍ او سترې مرستندويه پروژې د نوموړي په نوم پيل کړي. د ډاکټر ناکامورا خيريه مرستې هغو نړيوالو مرستندويه ادارو ته چې غواړي په افغانستان کې خيريه چارې تر سره کړي، دا پيغام ورکوي چې هغوی بايد په هغو بنسټيزو برخو کې کار وکړي چې کولی شي د افغان ولس لپاره اوږدمهاله ګټې ولري. داسې نه چې د افغان ولس په نوم راټولې شوې مرستې بېرته د هغو کسانو شخصي جيبونو ته ولاړې شي، چې نړيوالو ته په افغانستان کې د پروژو تطبيق کول يوازې د کاغذ پر مخ ورښيي او بس. افغان ولس بايد د رهبرۍ او ښه مديريت تشې ډکولو لپاره هڅې پيل کړي. هغه کسان چې د دوی د بنسټيزو پروژو مخه نيسي، بايد پر وړاندې يې ودرېږي او د ناکامورا هغه پاتې او نيمګړي ارمانونه او پلانونه چې په افغانستان کې يې درلودل، په ښه ډول پلي کړي. په ناکامورا د افغان ولس ژوره خواشيني له يوې خوا د دې ښکارندويي کوي، چې د افغانستان او جاپان ولسونو دښمن ځکه ګډ دی، چې دواړه ولسونه د سولې او ښه ژوند کولو غوښتونکي او د بشري مرستندويانو پلويان دي. له بلې خوا د نوموړي وژونکو ته دا پيغام پرېږدي چې افغان ولس د اوبو او نورو سترو طبيعي سرچينو خاوند دی، چې له يادو سرچينو څخه به د هغو نړيوالو مرستندويانو لکه د جاپان ولس چې بشر دوسته ولس دی، د هغوی په مرسته او په خپلې غښتلې ارادې سره به د افغانستان روښانه راتلونکی حتماً تضمينوي او هغه ډله چې د ناکامورا د وژنې طرحه يې جوړه کړې وه، هېڅکله به خپلو شومو موخو ته د رسېدو لپاره پرې نږدي.

# راپورونه: امريکايي ځواکونو په عراق او سوريه کې د شيعه وسله والو ډلو پر مرکزونو بريدونه کړي

د يوه امريکايي قرادادي په وژل کېدو پسې امريکا په عراق او سوريه کې د وسله والو ډلو پر مرکزونو بمبار کړی دی.
پنټاګون مني چې د عراق انبار ولايت کې يې د کتايب حزب الله ډلې د کنډکونو پر کنټرول مرکز او سلاکوټ بريدونه کړي دي.
دا په داسې حال کې ده چې د ډسمبر په ۲۷مه د عراق په کرکوک کې د راکټي بريد له امله يو قراردادي ووژل او څو امريکايي سرتېري او عراقي پرسونل ټپيان شول.
رويټرز خبري اژانس وايي، د يکشنبې بريد د عراق القيام په ولسوالۍ کې شوی چې له سورېې سره پر پوله پرته ده.
عراقي امنيتي سرچينو او وسله والو رويټرز خبري اژانس ته ويلي، چې په دې دريو بريدونو کې نږدې ۱۸ کسان وژل شوي او تر ۵۰ ډېر ټپيان شوي.
يوې بلې سرچينې فرانس خبري اژانس ته ويلي، په دې بريد کې د يو قوماندان په ګډون، ۱۹ وسله وال وژل شوي دي.
د امريکا د دفاع وزارت يا پنټاګون وياند جنتن هافمن وايي، د کتايب حزب الله له خوا د ټلوالې يا ائتلاف پر ځواکونو د بريد په ځواب کې دا دفاعي حملې شوې دي.
هغه پر خپله ټويټرپاڼه ليکلي چې په دې هوايي بريدونو کې په سوريه او عراق کې د کتايب حزب الله ډلې پنځه مرکزونه په نښه شوي دي.
دی وايي، که ايران او ملاتړې ډله يې کتايب حزب الله د امريکا له دفاعي بريدونو بچېدل غواړي، نو پر ائتلافي ځواکونو دې بريدونه نه کوي.
کتايب حزب الله شيعه وسله وال دي، چې ايران يې ملاتړ کوي. امريکا وايي، دا ډله د ايران له قدس ځواکونو سره نږدې اړيکې لري او د ټلوالې يا ائتلافي ځواکونو پر ضد د بريدونو لپاره يې له ايرانه څو ځلې مرستې او ملاتړ تر لاسه کړی دی.
د ډونالډ ټرمپ په مشرۍ د امريکا حکومت وايي، قدس ځواکونه په لبنان کې د حزب الله او په فلسطين کې د اسلامي جهاد په ګډون، په منځني ختيځ کې له هغو ډلو سره د مالي ملاتړ، سمبالولو او روزلو



بنسټيز رول لري چې امريکا يې ترهګر بولي.
د امريکا او ايران پر يو بل ورته تورونه په داسې حال کې دي، چې په ۲۰۰۳ ز کال کې په عراق کې د امريکا له يرغل سره سم د صدام حسين حکومت نسکور شو او له دې سره د دغه هېواد په کورنيو چارو کې د ايران نفوذ پرله پسې زيات شو.

# افغانستان د اداري فساد په کړنګ کې

لیکنه: فیض محمد ځدراڼ

لومړی برخه:

د ۲۰۰۳ ز کال د اکتوبر په میاشت کې د ملګرو ملتونو عمومي غونډې د اداري فساد پر وړاندې د کنوانسیون تر تصویب وروسته، د ډسمبر میاشتې په نهمه د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د ورځې په نوم ونوموله، چې هر کال دغه ورځ د نړۍ په مختلفو هېوادونو کې لمانځل کېږي. سږ کال د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې ورځ په افغانستان کې هم ولمانځل شوه، د دې ورځې په مناسبت مو وغوښتل چې د اداري فساد پر لاملونو او د افغانستان د ښکېلتیا په اړه د اداري فساد په قضایاوو کې درنو هېوادوالو ته ځینې ټکي روښانه کړو.

که څه هم د فساد پر وړاندې د مبارزې لپاره د فساد مختلفو بڼو ته په کتو ترې ارزونه کېږي، خو د قاطع مبارزې لپاره پکار ده چې په هره کچه فساد باید له قانوني چلند سره مخ شي. له دې کبله ښه به دا وي چې لومړی د فساد لپاره یو عمومي تعریف ولرو. «هره هغه کړنه چې په سازمانونو/اداراتو کې له قانوني پړاوونو پرته د یو یا څو لوریو تر منځ د شخصي ګټو لپاره تر سره کېږي او له امله یې د قانون خلاف کړنو ته لاره برابروي، اداري فساد ګڼل کېږي. یا په بل مفهوم، فساد هغه څه ته وایي چې پکې د وګړو ټولنیز، سیاسي او اقتصادي حقوق تر پښو لاندې کېږي».

پورتني تعریف ته په کتو، اداري فساد په یوه برخه کې نشو خلاصه کولای. لکه څرنګه چې دا پدیده په سازمانونو او اداراتو کې د ۲۱مې پېړۍ له مشهورو پدیدو څخه ګڼل کېږي، همدارنګه مختلفې بڼې لري چې نظر په شرایطو او قوانینو په ټولنو کې یې پر وړاندې مختلف چلند کیږي.

په پرمختللو هېوادونو کې لکه ځینې اروپایي هېوادونه، متحده ایالات، کاناډا او ځینې آسیایي هېوادونه لکه جاپان، سنګاپور او هانګ کانګ کې د اداري فساد کچه ډېره ټیټه ده. لامل یې دا دی چې په دې هېوادونو کې دولتونو د قانوني پړاوونو لپاره ځانګړې پالیسۍ او سیستمونه جوړ کړي، چې له مخې یې په مختلفو سطحو کې اداري چارې سیستم محوره دي او شخص نه شي کولای د سیستم له اجازې پرته قانوني مراحل مخکې یوسي.

د فساد له پلوه په دویمه درجه هېوادونو کې لکه هند، کوزوو، برازیل، اندونیزیا، تایلنډ او ځینو نورو هېوادونو کې بیا قانوني پړاوونه په سازمانونو او اداراتو کې نیمه سیستم محوره دي، چې له امله یې اشخاص کولای شي د سیستم په مرسته قانوني پړاوونه په ځینو مواردو کې په خپله ګټه وکاروي.

په وروسته پاتې هېوادونو کې لکه سومالیا، سوریه، افغانستان، سوډان او... کې بیا اصلاً قانوني پړاوونه د سیستم له لارې نه پلي کېږي او یا هم سیستم په نمونوي شکل جوړ شوی وي، چې اشخاص په ټولیز ډول سیستم ته لاسرسی لري او حتی الامکان د قانوني پړاوونو کنټرول د اشخاصو په لاس کې وي. له دې سره سم، د هرې چارې لپاره مختلفې لارې چارې موجودې وي چې اشخاص یې په خپله خوښه ټاکلی شي.

په دې برخه کې غواړم په افغانستان کې د اداري فساد پر عواملو او اړخونو باندې کتنه وکړم او حللارې یې وړاندې کړم.

د موقتي ادارې له تشکیله راپدېخوا اداري فساد هغه څه دی چې د افغانستان حکومتوالي او نړیوالې مرستې یې ننګولې دي او هر کال کله چې د روڼتیا نړیوال سازمان کلنی لېست خپروي، نو د افغانستان نوم یې په اداري فساد کې د ککړو هېوادونو په سر کې وي. له همدې کبله نړیوال ملاتړي او مرسته کوونکي تل د خپلو مرستو د ضایع کیدلو اندېښنه لري. د موضوع د لا ښه وضاحت لپاره کولای شو لاندې مواردو ته اشاره وکړو:

**۱ـ ضعیف ملي حاکمیت**

ملي حاکمیت د قانونمندۍ او فساد سره د مبارزې معتبره نسخه ګڼل کېږي. لیکن په تېرو اتلسو کلونو کې افغانستان د ملي حاکمیت له پلوه په ډېر بد وضعیت کې و او لامل یې هم د موازي قدرتونو شتون، حزبي او تنظیمي اړیکې، جګړه، د محلي زورواکو شتون، د مخدره توکو مافیا او د حکومت کمزورتیا بلل کیږي، چې پورتنیو فکټورونو پر ملي حاکمیت شدیده اغېزه کړې ده. له همدې کبله فساد په پراخه کچه په اداراتو کې پر یو عادي امر بدل شوی.

**۲- د میکانېزمونو نشتون**

له فساد سره د مبارزې لپاره د میکانېزمونو جوړول یو عمده اصل ګڼل کېږي. که چېرته په اداراتو کې چارې د مشخصو میکانېزمونو له لارې پر مخ یوړل شي، نو د فساد لپاره به زاویه ډېره تنګه کړي. په دې مانا چې که چېرته د اداري فساد د مخنیوي لپاره اداري پروسې لنډې شي او هره پروسه د سیستم له مخې پر مخ یوړل شي، نو اشخاص به د سیستم تابع وي او موجودیت به یې یوازې د سیستم د پر مخ وړلو په موخه وي.

د بېلګې په توګه، کولای شو په افغانستان کې د پاسپورټ د صدور پروسې او د بانکدارۍ سیستمونو ته اشاره وکړو.

**۳- په اداراتو کې د قانوني پړاوونو کلاسیکه بڼه**

د افغانستان په اداراتو کې قانوني پړاوونه په کلاسیکه بڼه پاتې شوي دي، چې په هره مرحله کې د سیستم پر ځای اشخاص د پرېکړې صلاحیت لري. پر دې سربېره، کاري پروسې دومره اوږدې دي چې که یو څوک وغواړي د خپل ملکیت لپاره قانوني اسناد جوړ کړي، نو لازمه ده چې د دغې پروسې لپاره تر لسو ډولو اسناد ترتیب کړي او له ۱۰ تر ۱۵ پورې لاسلیکونو ته ضرورت لري.

دلته د هر لاسلیک لپاره باید بډه ورکړل شي او د هر سند د ترتیبولو لپاره هم باید پیسې مصرف کړي او هم باید په میاشتو منتظر پاتې شي.

د سیستم او د مشخصو ستراتیژیو نشتون د دې لامل شوی چې په اداراتو کې چارې په کلاسیکه توګه پر مخ ولاړې شي او تر ډېره د چارواکو لاس لرل د کلاسیکې بڼې په ساتلو کې تر سترګو کېږي؛ ځکه د سیستم په نشتون کې د دوی ګټې خوندي دي.

د بېلګې په توګه، که یو څوک وغواړي په خپله ځمکه یوه لوړ پوړیزه ودانۍ جوړه کړي، د ښاروالۍ مربوطه ناحیې ته مراجعه کوي او د ودانۍ امر د بدې د ورکړې په بدل کې اخلي او خپلې ودانیزې چارې په خپله خوښه پیلوي. حال دا چې که سیستم موجود وي، لومړی د غوښتونکي ملکیت چې پخوا په سیستم کې ثبت شوی، د اطمینان لپاره کتل کېږي، وروسته ترې د ودانۍ پلان غوښتل کېږي او پلان باید د تعیین شویو معیارونو مطابق وي، چې مخکې له مخکې د ښاروالۍ له خوا د هرې سیمې لپاره مشخص پلان د متخصصینو له خوا ترتیب شوی وي. پلان تر هغې پورې نه تاییدېږي، څو چې پر معیارونو برابر نه شي، وروسته له دې چې په معیارونو برابر شو، په بله مرحله کې د ودانۍ ډیزاین غوښتل کېږي چې آیا نوموړې ودانۍ د ودانیزو مقرراتو او انجنیري معیارونه سره برابره ده او که نه. وروسته له دې چې د انجنیرۍ په معیارونو برابره شوه، د چارو د پیل اجازه ورکول کېږي او د ودانیزو چارو پر وخت یې کنټرولوي، څو له مقرراتو سرغړونه ونه شي او دا چارې د مختلفو ټیمونو په واسطه صورت مومي.

په متحده ایالاتو کې که څوک وغواړي د خپل کور په یوه برخه کې یوه نوې کوټه جوړه کړي، نو باید د ښاروالۍ مربوطه اداري څخه تصدیق واخلي، حال دا چې په افغانستان کې یو کس (ټیکه‌دار) چې کافي سواد هم نه لري، لس پوړیزه ودانۍ پرته له تخنیکي ډیزاینه جوړوي.

**۴- د تخنیکي ستراتیژیو نشتون**

له بده مرغه په تېرو ۱۸ کلونو کې داسې یوه ستراتیژي جوړه نشوه، چې له مخې یې حکومت وکولای شي اداري فساد یو څه را کم کړي، د نشتون مفکوره یې اوس هم یو خیال ګڼل کېږي.

د اداري سیستمونو د پرمختګ لپاره د متخصصینو له لوري لنډمهالې، منځمهالې او اوږدمهالې ستراتیژۍ تدوینېږي، چې له مخې یې په اداراتو کې د ضرورت مطابق سیستمونه جوړېږي او د تطبیق لپاره وړاندې کېږي. دغه سیستمونه د قانوني پړاوونو د یو شان کېدو په خاطر ډیزاین کېږي، څو د اداراتو کارکوونکي او د خدماتو غوښتونکي یوازې د پروسیجرونو د قانوني پړاوونو د تېرولو لپاره د سیستم تابع وي.

په اداراتو کې د اصلاحاتو د راوستلو او د اداري فساد د له منځه وړلو لپاره مختلفې برخې د ستراتېژیو د تدوین برخه ګرځي، چې په دې برخه کې د قانوني پړاوونو تغیر، د تخنیکي پلانونو پراخول، د پروسو لنډول، د ټکنالوژیکو موډلونو وړاندې کول، د بشري سرچینو د ظرفیت لوړول، د ځوانې کاري قوې ځای پر ځای کول، د مالي سیستمونو جوړول، د اصلاحاتي پلانونو تطبیق، له اصلاحاتي چارو څخه جدي نظارت او د کاري ټیمونو ارزول حتمي ګڼل کېږي.

د فساد د له منځه وړلو لپاره د تخنیکي ستراتیژیو جوړول او د اداراتو قانونمندول اساسي عوامل ګڼل کیږي.

**دوام لري...**

# توده جګړه او د سولې هڅې؛

## طالبان: د تاوتریخوالي پر کمولو او د اوربند پر بدیله لار سلا مشورې رواني دي


© AFP/K. Jaafar

طالبان وایي، دوی اوربند نه، بلکې د اوربند پر ځای د یوې دویمې لارې په لټه کې دي. وسله والو طالبانو ته نږدې سرچینې وایي چې طالبانو یوازې د تاوتریخوالي پر کمولو سلا مشورې کوي او اوربند هسې د رسنیو تبلیغات بولي. غربي رسنیو او د کورنیو رسنیو ځینو سرچینو په دې وروستیو ورځو کې داسې راپورونه خپاره کړل، چې ګواکې طالب مشران په خپلو کې پر یوه لس ورځني یا اووه ورځني اوربند هوکړې ته رسېدلي دي. طالبانو بیا پرون دغه راپورنه رد کړل او هغه یې د رسنیو تبلیغات وبلل.

سره له دې چې د سولې هوکړې د لاسلیک لپاره پر طالبانو د امریکا تر ټولو مهم شرط د اوربند رامنځ ته کول او بین الافغاني خبرو ته تیاری ښودل دی، خو دغه ډله اوربند نه مني. تازه وسله والو طالبانو ویلي چې دوی د اوربند پر ځای د یوې بلې دویمې لارې په لټه کې دي، چې یوازې تاوتریخوالی راکم کړي، خو اوربند به نه رامنځ ته کېږي. وړمه ورځ اسوشیټډ پرېس خبري آژانس طالبانو ته د نږدې سرچینو په حواله راپور ورکړی و، چې طالبان په خپلو کې پر لس ورځني اوربند سلا شوي دي او تمه ده چې ژر تر ژره دغه اوربند پیل شي.

د دې تر څنګ، ځینو نورو رسنیو بیا دا راپورونه هم ورکړي چې د کوټې او پېښور شورا طالبان پر اوربند هوکړې ته رسېدلي، خو په هلمند کې د دې ډلې نظامي قومندانان د اوربند مخالفت کوي. په همدې تړاو د طالبانو د قطر دفتر یو پلاوی د ملا برادر په مشرۍ پېښور، کوټې او ویل کېږي چې هلمند ته هم سفر کړی و. طالبانو تېره ورځ د یوې اعلامیې په خپرولو سره ویلي چې دوی اوربند نه کوي، خو یوازې د تاوتریخوالي پر کمولو سلا مشورې رواني دي. د دې ډلې ویاند ذبیح الله مجاهد په یوه خپره کړې اعلامیه کې ویلي طالبان د اوربند تصمیم نه لري. هغه زیاته کړې: «له څو ورځو را پدېخوا ځینې رسنۍ د اوربند په اړه غلط او له حقیقته لرې راپورونه خپروي. واقعیت دا دی چې اسلامي امارت د اوربند کوم تصمیم نه لري، امریکایانو د جګړې کمولو غوښتنه کړې، چې د اسلامي امارت په جهت کې په همدې مشخصه مسئله مشورې رواني دي».

بلخوا طالبانو ته نږدې سرچینې بیا وایي چې طالبان د اوربند پر بدیله لار فکر کوي. د سرچینې په خبره، طالبان غواړي تاوتریخوالی راکم کړي، خو که کومه چاودنه او یا امنیتي پېښه کېږي، دا به د اوربند د ماتېدو په مانا نه وي، بلکې دواړه لوري باید پېښه وڅېړي. د سرچینې په خبره: «طالبان د اوربند پر متبادل کار کوي او دا د تاوتریخوالي کمول او د سولې توافقنامې لپاره د مناسبې فضا برابرول دي. د مناسبې فضا د برابرولو موده اووه ورځې ټاکل شوې او که په دې ورځو کې کومه چاودنه او برید کیږي، دا به د اوربند د نقض په مانا نه وي او دواړې خواوې به د پېښې په اړه تحقیق کوي».

سرچینې وایي، امریکایان به په دې یوه اونۍ کې د سولې هوکړې لاسلیکولو ته زمینه برابروي او طالبان به دې ته نه اړ ایستل کیږي، چې دغه موده وغځوي. خو دا د طالبانو له خوا احتمالي وړاندیز دی او په دې تړاو د امریکا دریځ لا روښانه نه دی.

بل پلو د سولې په چارو کې د دولت وزارت بیا پر اوربند ټینګار کوي او وایي، د افغان حکومت او امریکا تر ټولو مهم شرط اوربند او د جګړې کمول دي. د دغه وزارت ویانده ناجیه انوري وایي، طالبانو ته پکار ده چې اوربند ته غاړه کېږدي او تر هغه وروسته دې د سولې بین الافغاني مذاکرات پیل کړي.

د اوربند او تاوتریخوالي د کمولو په اړه داسې مهال خبرې کېږي، چې په دې وروستیو کې د افغان ځواکونو او طالبانو تر منځ نښتو او جګړو زور اخیستی دی. دواړو لورو ته هره ورځ درنې مرګ ژوبلې اوړي او خلک هم دې ته هیله من دي چې ژر تر ژره د سولې هوکړه لاسلیک شي او تاوتریخوالی پای ته ورسېږي.

## د کتــاب خبـري

# پښتانه

## د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله


◎ لیکوال: ابوبکر صدیق

◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

**څلورمه برخه**

**پایله**

**یوولسم څپرکی**




**انکل سام په پښتونستان کې (Uncle Sam in Pashtunistan)؛**
که د امریکا پر ځای کوم بل هېواد د شته ورتیا او توان په لرلو له ورته گواښونو سره مخ شوی وای، ښایي ناکامي یې نه وای منلې. د ۲۰۰۱ز کال د سپټمبر د ۱۱مې له بریدونو وروسته، واشنگټن د خپل هېواد په تاریخ کې تر ټولو اوږدې بهرنۍ جگړې ته ور ښکته شو. دا جگړه د ډیورنډ کرښې دواړو غاړو ته د پښتنو په کورونو او کلیو کې پیل شوه. دا جگړې له سنگین، مارجې، تورې بوړې او وزیرستان څخه را پیل شوې او دا سیمې د امریکا د جگړې پر ډگرونو بدلې شوې. د یوه امریکایي نسل سرتېري، خبریالان او دیپلوماتان به له یوې لسیزې ډېر دلته خپله تجربه پخوي. د ۲۰۰۱ز کال د اکټوبر له ۷مې، د ۲۰۱۳ز کال تر مني پورې په افغانستان کې ۲۲۰۰ امریکایي سرتېري وژل شوي او ۱۸۰۰۰ نور یې ژوبل شوي وو. تر هماغه مهاله واشنگټن یوازې د افغانستان پر جگړه (٦۵۰) میلیارد ډالر لگولي وو.

د جگړې پر دې تاوده او له گواښه ډک ډگر واشنگټن ډېرې تېروتنې کړې دي. په لومړیو څپرکو کې مې هم یادونه کړې چې له دې جگړو وړاندې، د امریکا لویه تېروتنه دا وه چې په افغانستان کې یې په ۱۹۵۰ز لسیزه کې پرمختیا او امنیت ته پاملرنه ونه کړه، ځکه نو د پښتنو سیمو برخلیک له روسیې سره د سړې جگړې د تقابل پر ډگر واوښت. د امریکا بله لویه تېروتنه دا وه، کله چې روسان په ۱۹۸۹ز کال له افغانستان ووتل، امریکا یو ځل بیا دې سیمو ته شا کړه چې په پایله کې یې افغانستان د نړیوالې ترهگرۍ پر مرکز بدل شو. وروسته له هغه د بوش ادارې په افغانستان کې د القاعدې او طالبانو پر ضد د ډېرو کوچنیو نظامي موخو په اډانه کې جگړه پیل کړه، په دې کار سره یې یوازې د امریکا سیاستوال او عام خلک خوشالول. په عراق کې د امریکا د جگړې له پیل سره خبره نوره هم له گواښه ډکه شوه.

د اوباما د قدرت له پیل سره، هغه یې هم د هیلو خلاف پر هماغه وړه نظامي او جگړه‌ییزه کړۍ کې خپل کار ته دوام ورکړ. د ۲۰۰۹ز کال په نوومبر کې د افغانستان او پاکستان لپاره د اوباما د ادارې ستراتیژي وړاندې شوه، یوه برخه یې په دې توگه وه: ((دا تګلاره د دولت جوړونې او د یاغیانو ضد هڅو لپاره نه ده، بلکې زموږ د تګلارې اساسي موخه د القاعدې ځپل او په پاکستان او افغانستان کې د هغوی لپاره د پښې اېښودلو د ځای ورکول دي.))

په دې ډول تنگه کړۍ کې له پرېکړو ښکارېده چې واشنگټن د تېر په څېر خپلې تېروتنې تکرارولې. د بېلگې په توگه، د بوش ادارې د ۲۰۰۱ز کال په پای کې د افغانستان د امنیت لپاره د ملگرو ملتونو سوله ساتو ځواکونو ته زړه نه ښه کاوه. پر هماغه مهال ښه امنیت کولی شوای، سیاسي ثبات او اقتصاد ته لاره اواره کړي چې د ښې ولسواکۍ د پیاوړتیا لپاره اړینه وه. د جگړې په پیل کې امریکا د شمالي ټلوالې ملاتړوکړ. د طالبانو پر ضد یې د هغوی پر ملگرتیا جگړه وکړه چې په ترڅ کې یې همدا جنگسالاران بیا د دولت او خلکو د اوږو بار شول. د واشنگټن بله تېروتنه دا وه چې د دښمن او دوست په پېژندلو کې یې ساده او خام گامونه اخیستل. هر چا چې له طالبانو سره اړیکه لرله، د دوی دښمن و. له دې سره ډېرو طالب مشرانو پاکستان ته مخه کړه چې په پایله کې یې طالبان یو ځل بیا ځواکمن او د جگړې له توان سره را څرگند شول.


په افغانستان کې د ملگرو ملتونو او اروپایي اتحادیې استازي، فرانسېسک وېډرېل په وینا، د امریکا لومړنیو خامو او ناکامو گامونو راتلونکې یوې لسیزې جگړې ته لاره اواره کړه. هغه د ۲۰۱۱ز کال په نوومبر کې لیکلي وو: ((بدې حکومتولۍ، پراخ اداري فساد او له جزا څخه معافیت ناوړه ورځنۍ پدیدې وې. هغو طالبانو چې د نړیوالو راتگ ته یې په پراخو هیلو سره هرکلی ویلی و، د نړیوالو په ملاتړ له راغلي حکومت زړه توري شول، ځکه له یوې خوا یې اغېزناکې پالیسۍ نه لرلې، بل لور یې د طالبانو د یوه ښه بدیل په توگه اغېز نه لاره. دا شکایتونه د لوی اکثریت پښتنو له لوري هم اورېدل کېدل، هغوی چې د حکومت په سیاسي چارو کې یې اوږده تاریخي مخینه هم لرله. فکر یې کاوه چې په نوي حکومت کې بایلونکي وو.))

د امریکا تر ټولو لویه ناکامي له پاکستان سره په اړیکو کې وه. له یوې خوا پاکستان له ترهگرۍ سره مبارزه کې د امریکا ملگرتیا کوله، بل لور یې خاوره د نړیوالو جهادیانو پر پټنځای بدله شوه. د ۲۰۰۱ز کال د سپټمبر له ۱۱مې وروسته، امریکا پاکستان ته د نظامي او اقتصادي همکاریو په برخه کې (۲۵ میلیارده) ډالر مرسته ورکړه. ولسمشر بوش په ۲۰۰۴ز کال پاکستان په غیر ناټو هېوادونو کې راووست. پاکستاني پوځ ته امریکایي وسلې، (fighter Jets ۱٦-F)، ټرانسپورټي الوتکې، کوبرا هلیکوپټرې او پرمختللي میزایل سېسټم ورکړل شو. پر دې مرستو سربېره بیا هم القاعده او طالبان په پاکستان کې اوسېدل. واشنگټن ونه توانېد، د پاکستان پوځ وهڅوي چې ترهگر وځپي، په پایله کې د ترهگرۍ د گواښ پر موجودیت سربېره، په افغانستان کې افراطي شبکې د پرمختګ پر وړاندې گواښ جوړ کړی و. امریکا ډېر ناوخته پر دې پوه شوه چې د ډیورنډ کرښې دواړو غاړو ته د پښتنو په سیمو کې سیاسي اصلاحاتو او پرمختیایي چارو ته ډېره اړتیا ده. د وروستۍ پایلې په توگه، هغوی څرگنده کړه چې گواښ بیاتازه شوی و.

**دوام لري...**

# مارک ټواین

شفیق امیرزی



مارک ټواین د ۱۸۳۵ز کال په نومبر کې د امریکا د میسوري ایالت په فلوریډا نومي کلي کې زیږېدلی دی. د دوی د سیمې ټول کورونه لرگین وو او دی هم په همدې لرگینو کورونو کې دې نړۍ ته راغی. پلار یې قاضي و او کوچنۍ سوداگري یې کوله. په اصل کې د ویرجینیا و او په کنتاکي کې یې د حقوقو زده کړې کړې وې. همدلته یې له جین همپتون سره واده وکړ. ټواین ۱۲ کلن و چې پلار یې ومړ. له همدې امله مجبور شو چې په ځایي چاپخونو کې کار پیل کړي او د خپلې کورنۍ لپاره ډوډۍ پیدا کړي. وروسته یې په یوه ورځپاڼه کې کار پیل کړ. دلته یې ورور هم دنده لرله، نو دی هم همدې ځای ته راغی. ورځپاڼې د طنز او ځینو نورو ټولنیزو مطالبو لپاره ځانگړې نشرات هم لرل.

بیا نیویارک ته لاړ. هلته یې هم د څه مودې لپاره په کوچنیو چاپخونو کې دنده تر سره کړه. په دوو- دریو کلونو کې څو ښارونو ته لاړ او د حروفو د تنظیمونکي او ټولوونکي دنده یې مخ ته وړله. جنوبي امریکا ته یې هم یو ناڅاپي سفر درلود. له ۱۸۵۷ تر ۱۸٦۴ز کال پورې یې د کښتۍ په مرسته مي سي سي پي ته سفر وکړ. په ۱۸۵۹ز کې یې د کښتۍ د چلوونکي سند واخیست او له دې سره یې هممهاله بېلو نشریو ته طنزونه او ځینې مقالې لیکلې. د امریکا په کورنیو جگړو کې هم ښکېل و. په ۱۸٦٦ز کال کې یې له آلتا کلیفورنیا نومې ورځپاڼې سره هوکړه لاسلیک کړه. ده ته یې داسې جواز ورکړ چې هغه د یادې ورځپاڼې بې پولې خبریال دی، چې په هر ځای او هر وخت کې راپورونه جوړوي او د نړۍ گوټ گوټ ته سفرونه کوي.

ټواین له اوږدو ناندریو وروسته، د نیویارک د یوه شتمن او مشهور سوداگر له لور اولیوه لنگدن سره واده وکړ. د شلو کلونو لپاره د ۱۸۷۵ او ۱۸۹۴ز کلونو تر منځ ټواین تر ټولو شتمن او غوره لیکوال و. ده په دې موده کې تر ټولو غوره کتابونه ولیکل، خو د ۱۸۹۰ یمې لسیزې په نیمایي کې یې ژوند له خپگانونو ډک شو او هر څه ورته بې خونده شول. ځوانه لور یې کله چې دی او مېرمن یې له هېواده بهر وو، مړه شوه. تر ټولو کوچنۍ لور یې بیا د کرېسمس په شپه مړه شوه. په ۱۹۰٦ز کال کې یې بیا د خپل ژوندلیک لیکنه پیل کړه. د ژوند وروستي کلونه یې د جدي او څو طنزي کتابونو په لیکلو تېر کړل.

د مارک ټواین په ژوندلیک کې لیکل شوي دي: ماموېل لانگهورن کلېمنز په مارک ټواین مشهور، وتلی امریکایي طنز لیکوال، ټوکمار او خبریال دی. د ۱۸۳۵ز کال د نومبر په ۳۰مه د امریکا په فلوریدا کې زیږېدلی دی. مارک ټواین د خپلې کورنۍ د اوو اولادونو له ډلې شپږم اولاد و. په یوولس کلنۍ کې یې پلار ومړ، نو اړ شو چې د خپلې کورنۍ د چلولو او ساتلو لپاره کار او زیار وباسي.

د مارک ټواین له زیږېدو لږ موده وروسته د هغه کورنۍ هاینبال ته کډواله شوه. د مارک ټواین د ماشومتوب او ځوانۍ عمر په همدې سیمه کې تېر شو. ده ښوونځی هم همدلته پیل کړ. دی په ښوونځي کې تکړه شاگرد و، د ده پخپله خبره، هېڅوک یې په زده کړو او ادبي برخه کې په گرد پسې نه رسېدل. په ۱۸۴۷ز کال کې د مارک ټواین پلار ومړ. د خپل ژوند او لگښتونو د پوره کولو لپاره یې د نقاشۍ له یوه استاد سره شاگردي پیل کړه. له دې سره هممهاله یې له ژورنال نشریې سره د خبریال په توگه کار پیل کړ. له ۱۸۷۵ز کال وروسته مارک بریالی شو چې د بېړۍ چلولو جواز تر لاسه کړي او په مي سي سي پي سمندر کې بېړۍ چلول پیل کړي.

د مارک ټواین یو تر ټولو مهم کار دا دی چې د هاکلبري فین په نامه یې یو داستان په نوې بڼه ولیکه. دی د داستان په روایت کې له خورا مهارته کار اخلي. دی یوازې د کلماتو په تنظیم او ترتیب کې ماهر دی او د کلماتو پر مټ موږ ته د خپل کرکټر انځور ښیي. ان د هغه لهجه، رنگ او خویونه پر موږ ویني او لولي یې.

مخکې مو هم وویل چې مارک ټواین د خپل ماشومتوب وخت د مي سي سي پي سیند په شاوخوا کې تېر کړ. دغه آرامه سیمه وروسته د دې سبب شوه چې دی مهم او اغېزناکه اثار وپنځوي. په ۱۸٦۱ز کال کې مارک ټواین ویرجینیا ته لاړ. دا یې د مور او پلار د اوسېدو اصلي ځای ځایگی و. دی هلته د یوې عمومي نشریې اېډېټر و. د ۱۸٦۳ز کال د فبرورۍ په میاشت کې د مارک ټواین ادبي تخلص رامنځ ته کېږي. دی یوه طنزي سفرنامه لیکي او په همدې سفرنامه کې یې د مارک ټواین په نامه او تخلص لاسلیک وکړ. شاهزاده او گدا د مارک ټواین لومړنی اثر و. دا اثر یې په ۱۸۸۲ز کال کې خپور کړ. دا اثر د ټام سایر په پرتله دومره بریالی نه و. خو مارک په ۱۸۸۴ز کال کې د (هاکلبري فین پېښې) په خپرولو سره د ټولو پام ځان ته راواړاوه. دا کتاب د امریکا د ادبیاتو شاهکار گڼل کېږي. دا د ټام سایر په پرتله یو څه جدي لهجه لري او خورا ډېر لوستونکي یې پیدا کړل. مارک ټواین پر همدې اثر مشهور شو. نړیوال شهرت یې وموند. د ټام سایر پېښې هم د مارک له غوره اثارو گڼل کېږي چې په خپرېدو سره یې دغه لیکوال نړیوال شهرت ته ورسېد.

مخکې تر دې چې مارک د لیکوالۍ ډگر ته د ننه شي، یو خبریال و. ده د مقالې لیکلو لپاره د ټوکو او ټکالو یو خاص سبک ځان ته غوره کړی و. په ۱۸٦٦ز کال کې مارک ټواین د یوه خبریال په توگه هاوایي ایالت ته سفر وکړ. ده هلته نه یوازې دا چې خبریالي کوله، بلکې ورځنې نوټونه یې اخیستل. هلته یې د شته مسایلو او وضعیت په اړه لیکل کول او هغه یې له ځان سره نوټ کول. تر دې وروسته فرانسې او ایټالیا ته لاړ. د دې ځای تجربې او خاطرې یې د (فرنگ بې گنا) په نامه اثر کې راټولې کړې دي. دغه اثر چې کله خپور شو، نو په چټکۍ د امریکایانو تر منځ پر یوه منل شوي او محبوب اثر بدل شو. ټواین دا عادت درلود چې د ښې لیکوالۍ لپاره به یې اوږده سفرونه کول. له همدې امله ښایي د ده اثار د سفرنامې په څېر وي. د دې ډول اثارو تر ټولو مشهوره نمونه یې د ټام سایر پېښې بللی شو.

مارک ټواین نه یوازې د روانو مسایلو په اړه لیکل کول، بلکې یو ښه منتقد هم و. هغه د ټولنې پر ناسمو باورونو نقد کاوه او هغه یې غندل. ده په ۱۸۷۲ ز کال کې د سختۍ په نامه یوه سفرنامه لیکلې. په دې اثر کې یې پر امریکایي او نورو غربي ټولنو سختې نیوکې کړې دي. په دومره سخته لهجه یې نیوکې ورباندې کړې، لکه د بې گناهانو په اثر کې یې چې په اروپایي او منځني ختیځ کې پر مېشتو ټولنو باندې چې کړې وې.

مارک چې کله شهرت وموند، بیا یې سمندري سفرونه پیل کړل. د همدې سفرونو په لړ کې یې پوره یوه لسیزه له امریکا بهر ژوند وکړ. مخکې مو هم د دې کتاب یادونه وکړه، (بې گناه وگړي په کښتۍ کې) یې په حقیقت کې د همدې سمندري سفر یونلیک دی چې په ۱۸٦۷ز کال کې خپور شو. په ۱۸۷۲ ز کال کې یې د سختۍ یونلیک خپور کړ. په دې کتاب کې لکه مخکې مو چې یادونه وکړه، پر امریکایي او نورو غربي ټولنو نیوکې شوې دي. په ۱۸۷٦ز کال کې مارک ټواین د ټام سایر پېښې کتاب خپور کړ. دا کتاب یې په خپله ځوانۍ کې په هانیبال کې له ځان سره انځور کړی او پنځولی و. دا کتاب په اصل کې د مارک خپل ژوند دی، خو دی د ټام سایر په څېره کې راڅرگند شوی دی.

مارک ټواین سره له دې چې یو ښه لیکوال و، ښه ویناوال هم و. هغه په امریکا، انگلستان او نورو هېوادونو کې د ادبیاتو په اړه گټورې ویناوې کړې دي. په همدې موده کې یې خپل غوره اثار هم وپنځول. د ټام سایر پېښې، شاهزاده او گدا د مي سي سي پي د سیند تر غاړې ژوند یې هم بل اثر دی. هاکلبري فین یې بل مهم اثر دی چې په نړیواله کچه مشهور دی. د مارک د شاهزاده او گدا کیسه د انگلستان د یوه پادشا شپږم اډوارډ په اړه ده. دغه اثر یې خپلو دوو لورگانو ته ډالۍ کړی دی.

مارک ټواین په ۱۹۰۴ز کال کې په فلورانس کې ژوند کاوه چې مېرمن یې مړه شوه، دویمه لور یې ړنده شوه، دې مسئلې د ټواین پر اثارو ډېر منفي اغېز وکړ. دی یې ناهیلی کړی، دغه ناهیلي او خپگان بیا وروسته د ټواین په اثارو کې له ورایه ښکاري. دی چې په ذاتي توگه د ژوند په اړه یو مثبت کس و، د دې پېښو په رامنځ ته کېدو یې زړه خپه او مات شو. شدیده رواني ضربه یې ولیده او لومړی ځل و چې په ژوند کې د خپلو دوستانو تکلیف او درد ویني.

مارک په سیاسي برخه کې هم فعال و. دی د امپریالېزم پر ضد د مبارزې په برخه کې ډېر فعال کس و او د دې مبارزې سخت پلوی و. مارک د لیکوالۍ او سفرونو تر څنگ بیا هم زده کړو ته ادامه ورکوله. په ۱۹۰۷ز کال کې یې له آکسفورډ پوهنتون څخه د ادبیاتو په برخه کې خپله دوکتورا واخیسته. مخکې مو هم وویل چې د مېرمنې او لور مرگ ټواین ته ژوند سخت کړ. د عمر په وروستیو کې دغو دوو پېښو سخت غمجن کړ او له همدې امله په ۱۹۱۰ز کال کې د اپرېل په ۲۱مه د زړه حمله ورباندې راغله. د همدې پېښې له امله یې د تل لپاره له دې نړۍ سترگې پټې کړې، خو د کتابونو او اثارو پر مټ یې لا هم له لوستونکو سره خبرې کولې.

مارک ټواین په لیکوالۍ کې له چارلز ډیکنز اغېزمن شوی و، خو له ده هم ځینې لیکوالان متاثر وو. کورت ونه گات، همینگوی او فاکنر هغه لیکوالان دي چې له ټواین متاثره دي او د ده د اثارو مطالعه لري.

مارک ټویان نږدې ۱۱۰ کاله وړاندې ومړ، خو د خپل ژوند په وروستیو کې یې خپل ژوندلیک هم لیکلی و. ده ویلي وو چې دغه ژوند لیک یې باید د ده له مرگ پوره سل کاله یا یوه پېړۍ وروسته چاپ شي. همداسې وشول، امریکا کې یې دغه اثر سل کاله وروسته په ۲۰۱۰ ز کال کې چاپ شو. دغه اثر د کالیفرنیا برکلي پوهنتون خپور کړ. د دغه کتاب خپرېدل او پلور د ناشرانو د تمې پر خلاف و. دا کتاب د ۲۰۱۰ ز کال تر نومبر پورې ۲۷۵۰۰۰ ټوکه پلورل شوی و. د دغه کتاب ډېره برخه مارک ټواین د عمر په وروستیو څلورو کلونو کې لیکلې ده. لیکوالان او نقادان پر دې باور دي چې د مارک ژوندلیک د هغه تر ټولو اثارو ډېر سیاسي اثر دی. دی هر څه صاف او روښانه وایي. له چا وېره نه لري او نه هم عاجزي کوي. په غوسه او جدي توگه مسایل مطرح کوي. که یې غوښتي چې څه وستایي، نو ښه یې ستایلي دي، له هېڅ شي یې وېره نه ده کړې. نیویارک ټایمز لیکي، دغه اثر د ټواین د ماشومتوب له خاطراتو ډک دی. په کتاب کې یې د ژوند ټولې پېښې انځور شوې دي او خپلې تجربې یې پکې راوستې دي.

همیانی

# په اړیکو او ملګرتیا کې ٦ ډېرې عامې تېروتنې

ژباړه: غازي عابد

څنګه کولی شو چې په ملګرتیا کې د دغو شپږو خطرناکو او ویجاړوونکو غلطیو مخه ونیسو.

مینه، ملګرتیا، ګرانښت، لېوالتیا، دوه اړخیز یا ګډ تشویق... د ملګرتیا ټولې ګټې بالاخره د یوه خوښ ژوند لامل کیږي. هغه څوک چې ورسره خوښ یاستی، مرسته درسره کوي، لېوالتیا درسره لري، په خوله مو خندا راولي، که کتاب درسره نه وي او ټوله ورځ ورسره وغږیږی هم په خبرو به یې ماړه نه شی.

پام مو وي که چېرته مو ملګرتیا د مشخص هدف لپاره وي، نو دا ډول لنډپاره او مطلبي ملګرتیا بې ګټې ده، خامخا به له منځه ځي او نه شي کیدای چې یو بل ته د ټپ مرهم شی.

ځیړنو ښودلې؛ کله چې موږ دردېږو او د درد پر مهال د هغه چا انځور وینو چې مینه ناک وي او له زړه درته ګران وي، نو د درد احساس کمیږي.

څکه وایو چې له ښې ملګرتیا سره به د امن، پیاوړتیا، مینې او روغ ژوند احساس کوی، خو له دې ټولو سره سره ځینې تېروتنې هم شته چې په ملګرتیا کې کیږي، دا چې کومې دي او څنګه یې مخه ونیسو، دلته یې لولو:

**۱- ډېره ځان غوښتنه**

دا یوه پخوانۍ او عمومي تېروتنه ده چې ځینې خلک یوازې په خپل طبیعت سره ملګرتیا غواړي او خوښوي یې، خو دا ښه خبره نه ده، غوره دا ده چې باید په داسې یو ډول سره ځان برابر کړو چې د نورو نزاکتونه او طبیعتونه هم په نظر کې ونیسو. یانې داسې اوسېدل چې زه چې څه کوم او وایم ښه او نور بد دي، دا ډول ملګرتیا دوام نه کوي. کوښښ وکړئ چې د نورو نظرونه او خوښې هم په نظر کې ونیسی.



**۲- لوبول**

په ملګرتیا کې له لوبو کولو ځان وساتئ. هغوی چې په ملګرتیا کې لوبې کوي او په دې ډول سره نور لوبوي، دا ډول ملګرتیا هم ګټوره نه ده او ژر ختمېدونکې ده. نو څکه ضرور ده چې د ملګري له هر ډول لوبونې او غولونې ځان وساتئ.

په ټوله کې باید ووایو چې که غواړی ښه ملګرتیا ولری، صادق اوسئ او د ملګري د لوبولو کوښښ مه کوئ، که ملګری درباندې اوس پوه نه شي، وروسته پوهیږي او دا به بیا ډېر بد کار وي.

**۳- ډېر ژر ډېر سره خوړېدل**

کله چې له چا سره ملګرتیا کوی، نو ژر تر ژره ورسره داسې مه کوئ لکه یو مخکیني ملګري سره یې چې کوی. ځینې خلک وي، هغوی چې له چا سره ملګرتیا جوړه کړي، بیا ترې بې حده زیاتې غوښتنې کوي او ژر یې پوره کېدل غواړي. یا هم پرې بارونه وراچوي باید دا کارونه راته وکړې دا وکړې او ها وکړې، که یې وس نه وي یا هغه د نویوالي له امله درباندې باور او معلومات نه لري او څه درته ونه کړي، نو ممکن بیا ته دا فکر وکړې چې ښه ملګری نه دی. غوره ده چې د یو څه وخت لپاره ملګرتیا دوامداره وساتئ چې لږ سره ډېر اشان شوی او د یو بل شخصیت او ځانګړتیاوې مو وپیژندلې، بیا کولی شی تر ممکنه حده سره همکاري او غوښتنې وکړی.

**۴- ملګري ته بد ویل**

کله مو چې له چا سره ملګرتیا نوې جوړه کړه، له مخې سره یې پر ځینو ګامونو او کارونو بد ګوماني مه کوئ. کېدای شي ځینې تېروتنې ترې وشي او له همدې امله یې تاسې بد وبولی. لږ یې نور هم مطالعه کړئ چې څه ډول او څنګه دی.

د بېلګې په ډول، پر دې باید پوه شئ چې څه کوي، څنګه فکر لري، څومره دی او څه ډول احساسات لري... یانې مخکې له دې چې ملګری په بشپړ ډول وپېژنی، پرې غلطې ټاپې او تورونه مه لګوئ.

**۵- پر بشپړتیا یې ایمان لرل**

هېڅ انسان بشپړ نه دی. که چېرته موږ یو جدا فکر وکړو او د یوه ملګري په اړه داسې تصور له ځانه سره ولرو چې بیخې تېروتنه به نه کوي او هېڅ ډول ستونزه به نه لري، دا به زموږ یو غلط تصور وي. ځینې وخت موږ د ځینو ملګرو په اړه دومره د مکملوالي او بشپړتیا خیال لرو، چې هېڅ تېروتنه به نه کوي یا نیمګړتیا به نه لري، خو کله چې بیا نیمګړتیا وکړي، بیا مو د اړیکو د پرېکون لامل کیږي. په حقیقت کې داسې کول، یو ښکاره او څرګند لیونتوب او ساده ګي ده، څکه هر انسان نیمګړی دی او خامخا به تېروتنه کوي.

**٦- هڅه مه کوئ چې ملګري مو بدل کړئ**

ملګري مو چې څرنګه وي، وي به، د بدلولو هڅه یې مه کوئ، یانې دا چې ته کوم ډول یې، هڅه مه کوه چې هغه هم باید ستا غوندې وي، خو کولی شې چې د بدو عادتونو په له منځه وړلو او پوهولو کې ورسره مرسته وکړې؛ خو ځینې بدلونونه چې باید د شرایطو او غوښتنو مطابق وي، تر سره شي. د بېلګې په ډول، که وظیفه اخلی، باید په کوم معیار برابر اوسی، له هغه یوه عادي کس سره په عام ځای او حجره کې دې باید چلند څه ډول وي او په یوه رسمي ځای یا اداره کې دې باید چلند څه ډول وي، دلته باید ځان هم بدل کړې او که نور دې هم د بدلون هڅه کوي، غوره ده، خو دا په دې مانا نه ده چې ګواکې خدای مه کړه خپل هر ډول ارزښتونه ورته پرېږدې او ځان بشپړ بدل کړې.

همدا راز که چېرته غواړې چې خپل ملګری دې خوشاله کړې، که داسې مزاقي غوندې او خوندور شې، بیا نو بده خبره نه ده، همداسې وکړه، څکه که ستا ملګری خوښ ژوند ولري، ته به هم ورسره خوشحاله اوسې.

# د کتابونو چاپولو لپاره لسګونه میلیونه ډالر له افغانستانه پاکستان ته وړل کېږي

په کابل کې د اصنافو ټولنه وايي، هر کال له افغانستان څخه پاکستان ته د کتابونو د چاپ په هدف ۱۰۰ میلیونه ډالره انتقالیږي.

د دې ټولنې مشر شیرباز کمین زاده ازادي راډیو ته وویل، چې د حکومت نه پاملرنه او په دې برخه کې د لازمو فرصتونو نه برابرول، هغه لاملونه دي چې دغه سکټور یې له سقوط سره مخ کړی.

په کابل د ځینو خصوصي مطبعوو مسوولین وايي، که څه هم له پخوا راهیسې د کتابونو د چاپ بازار یو څه ښه شوی، خو بیا هم بنسټیزې ستونزې د دې سکټور پر وړاندې شته.



د دانش خپرندویې ټولنې او مطبعې مسوول اسدالله دانش ازادي راډیو سره په خبرو کې وویل: «په افغانستان کې د خامو موادو نشتون، د برېښنا ستونزې او د حکومت له لوري د لوړې مالیې وضع کول، هغه لاملونه دي چې خلک په خپل هېواد کې د کتاب چاپولو ته زړه نه ښه کوي او زموږ لپاره اصلي ستونزه د حکومت نه پاملرنه ده».

د کابل ښار د ځینو کتاب پلورنځیو مالکان هم پر دې باور دي، چې په پاکستان کې د کتاب چاپ نسبت افغانستان ته ارزانه دی، نو همدا دلیل دی چې اکثره خپرندویه ټولنې خپل کتابونه په پاکستان کې چاپوي.

دوی وايي، له دوی سره پراته کتابونه ډېری یا د پاکستان چاپ دي او یا هم د ایران.

د افغانستان د اصنافو ټولنې د معلوماتو له مخې، اوسمهال په افغانستان کې شاوخوا ۲۵۰ مطبعې د فعالیت جواز لري، چې یوازې ۱۰۰ یې په پلازمېنه کابل کې دي، خو د دوی په خبره، ډېری دغه مطبعې د ځینو ستونزو له امله غیر فعاله دي.

د اصنافو ټولنې مشر شیر باز کمین زاده بیا ازادي راډیو سره په خبرو کې ویلي، په داسې حال کې چې د تېرو کلونو په پرتله ظرفیت ښه شوی، خو د حکومت نه پاملرنې دغه سکټور له بحران سره مخ کړی دی.

ښاغلي کمین زاده زیاته کړې: «په اوسط ډول شاوخوا ۱۰۰ میلیونه ډالره د دې برخې له لارې پاکستان ته ځي. که چېرته موږ دغه پیسې افغانستان ته راوړو، په اطمینان تاسو ته ویلی شم چې شاوخوا ۳۰ زرو کسانو ته به د کار زمینه برابره شي».

د ښاغلي کمین زاده په خبره، د حکومت له لوري پر افغاني کمپنیو د مالیې لوړول، د اقتصادي او امنیتي ستونزو نه حلېدل او د اړوندو ادارو نه همغږي په دې برخه کې هغه بنسټیزې ستونزې دي، چې ګټه یې په غیر مستقیم ډول پاکستان ته رسېږي.

دې اندېښنو ته د افغانستان د مالیې وزارت وايي، حکومت د مالیې او تعرفو په برخه کې خصوصي سکټور ته ځانګړې برنامې په نظر کې نیولې دي.

د دې وزارت ویاند شمروز خان مسجدي ازادي راډیو ته ویلي: «په مالیو کې کمښت او د ماشین الاتو په واردولو کې د تعرفې کمښت هغه ژمنې دي چې حکومت یې د خصوصي سکټور سره کوي».

# اکسپرس ټربیون: په افغانستان کې د امریکا نظامي تګلاره ناکامه شوې

د اکسپرس ټربیون په نامه پاکستانۍ ورځپاڼه وايي، چې امریکا په افغانستان کې پر نظامي بریا د ټینګار له امله ډېرې تېروتنې کړې دي. یاد مطلب چې د سیاسي چارو شنونکي محمد علي احسان لیکلی دی کاږي، په افغانستان کې د امریکا نظامي تګلاره ناکامه شوې ده او امریکایي دولت په دې اړه خپل ملت ۱۸ کاله دروغ ویلي.

د هغه په باور، دا جګړه چې د امریکا په تاریخ کې تر ټولو اوږده او زیات لګښت لرونکې جګړه ده، نه یوازې دا چې کومه لاسته راوړنه نه لري، بلکې تر ډېره یې په زیان تمامه شوې ده. مطلب د امریکا د ماتې دلایلو ته په اشارې لیکي، چې په افغانستان کې د امریکا ټولو نظامي قومندانانو پر جګړه ټینګار کړی دی، چې دا یې تېروتنه کړې ده او پرته له دې چې د جګړې عوامل وڅېړي، جنګ ته یې دوام ورکړی دی.



د لیکوال په خبره، که چېرته د امریکا هدف په افغانستان کې سیاسي ثبات وای، نو هېڅکله به یې پر جګړه ټینګار نه و کړی، څکه جګړه هېڅکله ګټونکی نه لري او یاد هدف له سوله ییزو لارو په ښه ډول لاس ته راوړل کېدای شوی، چې امریکا په رښتیني مانا تر اوسه کوم داسې اقدام نه دی کړی. د لیکوال په خبره، د طالبانو او امریکایي لور تر منځ د افغان سولې په اړه روانو خبرو ته تمه شته چې ژر یوې پایلې ته ورسېږي.

هغه وايي، په افغانستان کې د امریکا اوسنی سیاست دا په ډاګه کوي چې دوی اوس په دې هېواد کې د ثبات په لټه کې دي او تمه شته چې ژر دې هدف ته ورسېږي.

اقتصاد

**د اسعارو بیې**

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۱۰ |
| € | ۸۶,۸۰ |
| Rp. | ۴۸۵ |
| ₹ | ۱۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱,۱۵ |
| £ | ۱۰۱ |

**پروازونه**

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |
| Kam Air | |
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |
| flydubai | |
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

**بیړنۍ شمیرې**

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

